دامیرِ اهلِ سُنّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه دکتاب "نیکی کی دعوت" یو قسط مع ترمیم و اضافه

# دلوحِ محفوظ

## په باره کښې ښکلې معلومات

پښتو




شیخِ طریقت، امیرِ اہلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامي حضرت علّامه مولانا ابو بلال

محمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ،
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د لوحِ مَحفوظ په باره کښې ښکلي معلومات

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! په ښه بد د پوهیدلو نه پس تقریباً هر مسلمان د لوحِ مَحفوظ نوم اوريِ. خو هر کس ته د لوحِ مَحفوظ په باره کښې معلومات نه وي، راځئ! چې د لَوحِ مَحفوظ په باره کښې معلومات حاصِل کړو چې هغه څه څیز دے؟ **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی د لوحِ مَحفوظ ذِکر په سیپاره 30 سُوْرَةُ الْبُرُوج آیت نمبر 21 او 22 کښې ارشاد فرمائي:

بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِیْدٌ ﴿۲۱﴾ فِیْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ ﴿۲۲﴾

مفهوم ترجمهٔ کَنزُالاِیمان: بلکه هغه کمال شرف لرونکے قرآن دے په لوحِ مَحفوظ کښې.

حضرت عَلّامه محمّد بن احمد اَنصاري قُرطبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه په **تَفسیرِ قُرطُبي** جلد 10 صفحه نمبر 210 کښې د دې آیتونو نه لاندې لیکي: یعني قرآنِ کریم په یو **لَوح** کښې لیکلے شوے دے، د **الله** تعالیٰ سره **مَحفوظ** دے او هغې ته شیطانان نه شي رسیدے، عُلمائے کرام لیکي: په لوحِ مَحفوظ کښې دَ مخلوق ټول قِسمونه او د هغوئي مُتَعَلِّق ټول اُمور مَثَلاً مرګ، رِزق، اعمال او د هغې نتیجې او په دې څیزونو د نافِذ کیدونکو فیصلو بیان دے. (تفسیرِ قُرطبي ج10 ص210)

## لوحِ مَحفوظ کوم ځائے دے؟

**حضرت** سَیِّدُنا مُقاتِل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: لَوحِ مَحفوظ د عرش ښي طرف ته دے.
(تفسیرِ قُرطبي ج10 ص 210)

## لوحِ مَحفوظ د سپینې مَلغلرې نه جوړ دے

د **حضرت** سَیِّدُنا اِبنِ عبّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روایت دے چې د **الله** تعالیٰ خوږ **محبوب** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: لَوحِ مَحفوظ د سپینې مَلغَلرې نه جوړ شوے دے، د دې **قلم** نُور او لِیك هم نُور دے. (ماخوذ از حِلیَةُ الْاَولیاء ج4 ص338 رقم 5767)

## د ټولو نه اول په لوحِ مَحفوظ کښې څه اولیکلے شو؟

حضرت سَیِّدُنا اِبنِ عبّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمائي: **الله** تعالیٰ په لَوحِ مَحفوظ کښې د ټولو نه اول دا اولیکل چې زه **الله** یم زما نه سِوا هیڅ څوك د عبادت مُستَحِق [یعني لائق] نشته! **مُحَمّد** (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم) زما رسول دے. چا چې زما فیصله اُومنله او زما په نازل شوي مُصیبت باندې ئې صبر اوکړو او زما د نِعمَتونو شُکر ئې ادا کړو نو ما هغه **صِدِّیق** اولیکلو او هغه به د صِدّیقینو سره را پاڅووم، او چا چې زما فیصله اُو نه منله او زما په نازل کړې مُصیبَت ئې صبر اونکړو او زما د نِعمَتونو شُکر ئې ادا نه کړو هغه زما نه سِوا چې څوك غواړي خپل معبود دې جوړ کړي. (تفسیرِ قُرطبي ج10 ص 210)

## ته د نفس منونکے جوړ شوے ئې

**حَجّاج** بِن یوسف په حضرت سَیِّدُنا **مُحَمَّد** بن حَنَفیه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې په خط کښې څه دباو اچولے وو نو هغوئي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته په جواب کښې اولیکل: ما ته دا رِوایت رارسیدلے دے چې **الله** تعالیٰ هره ورځ په **لَوحِ مَحفوظ** درې سوه شپیته ځله نظر فرمائي، هغه عِزَّت او ذِلَّت ورکوي، تنګي او فراخي ورکوي او هغه چې څه غواړي کوي، شاید چې په هغې کښې یو نظر ته د خپل نَفس سره داسې مشغوله کړے ئې چې د هغې نه هېڅ وزګاریږې نه. (تفسیرِ قُرطبي ج10 ص 210)

# دَ قِیامَته پورې کیدونکي هره خبره په لَوحِ مَحفوظ کښې لیك ده

حضرت سَیِّدُنا اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا فرمائیلي دي: **اللّٰه** تعالٰی **لَوحِ مَحفوظ** پیدا کړو، د هغې اُوګدوالے د سلو کالو د فاصلې همره وو، بیا هغه د مخلوق د پیدا کیدو نه مخکښې **قلم** ته اُوفرمائیل ته زما د مخلوق په باره کښې زما علم اولیکه پس هغه د قِیامته پورې کیدو والا هر څه اولیکل. (العظمة لابي شیخ ص86 رقم 223)

## د ”لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ“ ګواهي ورکونکے به جَنَّت ته داخلیږي

د حضرت سَیِّدُنا اَنس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې د **اللّٰه** تعالٰی محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: ”بیشکه **اللّٰه** تعالٰی په لوحِ مَحفوظ کښې اولیکل: ”اِنِّیۡ اَنَا اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا“ بیشکه زه **اللّٰه** یم او زما نه سِوا هیڅ څوك معبود [یعني د عِبادت لائق] نشته، ما د درې سوه اَو لسو نه څه زیات قِسمه مخلوق پیدا کړے دے په هغوئي کښې چې کوم مخلوق دا ګواهي ورکړي چې ”لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ“ نو هغه به جَنَّت ته داخلیږي.“

(تفسیر دُرِّ مَنْثور ج8 ص472)

## د جَنَّت حقدار څوك؟

حضرت سَیِّدُنا اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا فرمائي: ”په لَوحِ مَحفوظ کښې لیك دي چې د **اللّٰه** تعالٰی نه سِوا څوك معبود نشته، د هغه دین اسلام دے او مُحَمّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د هغه خاص بنده او رسول دے. چا چې په هغه باندې ایمان راوړو او د هغه وعده ئې رښتیا [یعني پوره] کړه او د هغه د رسولانو تابعداري ئې اوکړه نو **اللّٰه** تعالٰی به هغه جَنَّت ته داخل کړي.“ (تفسیرِ بَغوي ج4 ص441)

عَجَب نہیں کہ لکھا لوح کا نظر آئے
جو نَقشِ پا کا لگاؤں غُبار آنکھوں میں (سامانِ بخشش)

عجيبه نه ده چې زه اُووينم د لَوح ليکونه
چې د آقا د قدم ګرد په سترګو پورې کړمه
صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب          صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د ځوئ د پيدا کيدو زيرے

**حضرت شاه وَلِـيُّ الله مُحَدِّث دِهلوي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې زما والِدِ **مُحتَرَم** حضرت **شاه عَبدُ الرَّحِيم** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زه يو ځل د حضرت سَيِّدُنا خواجه **قُطبُ الدِّين بختيار کاکي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مزار مبارک د زيارت د پاره لاړم. د هغوئي روح مُبارک ظاهر شو او اوئې فرمائيل: "**ستاسو به يو ځوئ پيدا کيږي د هغه نوم قُطبُ الدِّين احمد کيږده.**" زما بي بي زاړه عمر ته رسيدلې وه په دې وجه ما دا خيال اوکړو چې د دې ارشاد نه به مُراد د ځوئ ځوئ يعني نَمسے وي. حضرت سَيِّدُنا خواجه قُطبُ الدين بختيار کاکي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زما **د زړه په دې خيال** فوراً خبر شو او اوئې فرمائيل: "زما مُراد دا نه دے بلکه هغه فرزند به ستا خپل ځوئ وي." شاه وَلِيُّ الله صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور فرمائي چې: والِدِ **مُحتَرم** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو څو کاله پس د دويمې ښځې سره نکاح اوکړه نو دا ليکونکے فقير شاه وَلِـيُّ الله پيدا شو. په شروع کښې دا واقعه د هغوئي نه هيره شوې وه نو زما نوم ئې "**وَلِـيُّ الله**" کيښودو او څه موده پس چې ور په ياد شو نو زما دويم نوم ئې (د حضرت سَيِّدُنا خواجه قُطبُ الدِّين بختيارکاکي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د فرمان مطابق) قُطبُ الدِّين احمد کيښودو. (اَنفاسُ العارِفين ص 79)

د الله تعالیٰ دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږ بے حِسابه بخښنه اوشي. **اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

# په اولني خيال وَلي بهر رانغلې؟

د **الله** تعالیٰ په عطا سره حضرت سَيِّدُنا شيخ **جُنيد بَغدادي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم د زړه په حالونو خبريدلو چنانچه حضرت سَيِّدُنا خيرُالنَّساج رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زه په خپل کور کښې

ووم او په زړه کښې مې خيال راغے چې حضرت سَیِّدُنا شيخ جُنيد بَغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زما د دروازے خوا ته تشريف راوړے دے خو ما تَوَجُّه واړوله بيا په **دويم** او **دريم** ځل هم دا خيال راغے، چې را اُووَتلم نو واقعي هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دروازه کښې وو، ماته ئې اُوفرمائيل: **په اولني خيال وَلې نه راوتلې**. (رساله قُشَيرِيه ص274)

سُبْحٰنَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ! تاسو اوليدل چې! حضرت سَیِّدُنا شيخ **جُنيد بَغدادي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د **غيبو** خبر اِرشاد اُوفرمائيلو چې: په اولني ځل خيال درغلو نو وَلې نه راوَتلې! چې د اولياؤ د **عِلمِ غيب** دا حال دے نو د خوږ خوږ مُصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **عِلمِ غيب** به څه مقام وي! حضرت سَیِّدُنا اِمام بوصِيري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپله مشهورِ زمانه "قصيدۀ بُرده شريف" کښې عرض کوي:

فَاِنَّ مِنۡ جُوۡدِكَ الدُّنۡيَا وَضَرَّتَهَا ۔۔۔ وَمِنۡ عُلُوۡمِكَ عِلۡمَ اللَّوۡحِ وَالۡقَلَمِ

يعني يَارَسُوۡلَ اللّٰه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دُنيا او آخِرت دواړه ستاسو د سخاوت او بخشش يوه حصه ده او د لَوح و قلم عِلم (چې په هغې کښې ټول مَاكَانَ وَمَايَكُونُ يعني چې څه شوي دي او څه به کيږي ټول ليك دي) ستاسو د عُلومو يوه حصه ده.

اعلٰی **حضرت** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په بارګاهِ رِسالت کښې عرض کوي:

خدا نے کیا تجھ کو آگاہ سب سے ۔۔۔ دو عالم میں جو کچھ خفی و جلی ہے
کروں عرض کیا تجھ سے اے عالم السِّر ۔۔۔ کہ تجھ پر مری حالتِ دل کھلی ہے

شرحِ کلامِ رضا: اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دې شعرونو کښې فرمائي: (1) يا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په دواړو جهانو کښې چې څه ښکاره او پټ دي د هغې نه **الله** تعالٰی تاسو خبر کړي ئې. (2) اے عالِمُ السِّر (يعني اے پټ حالات پيژندلو والا) تاسو ته څه عرض اوکړم تاسو ته زما د زړه ټول حالت ښکاره دے.

گردابِ بلا میں پھنس کے کوئی طیبہ کی طرف جب تکتا ہے
سلطانِ مدینہ خود آکر بگڑی کو بنایا کرتے ہیں

مدينے ته چې څوك ګوري په مشكل او په آفت كښې
حضور راشي مدد اوكړي د هغه په مُصيبت كښې

(د عِلمِ غيب مُتَعَلِّق د تفصيلي معلوماتو د پاره رِساله خَالِصُ الْاِعتِقاد (فتاوٰی رضويه ج29 صفحه 411تا483)، اَلْكَلِمَةُ الْعُلْيَا (از: صَدرُ الاَفاضِل مَولانا نَعِيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه)، او جاءَالحَق (از: مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) لوستل ډير فائده مند دي)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د وَفات نه پس هم د نيکۍ دعوت

**سُليمان** عُمري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وائي چې ما يو ځل حضرت **ابو جعفر قاري** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خوب كښې اوليدو، اوئې فرمائيل: زما ورونړو ته زما سلام ورَسَوه او ورته وايه چې زما **ربّ** ما ته **د شُهداء مقام** راكړے دے او د خپل طرف نه ئې راته رزق عِنايت كړے دے او ابوحازِم ته زما سلام وايه او ورته وايه چې خيال كوه او د عقل نه كار واخله ځكه چې **الله** تعالىٰ او د هغه فرښتے ستا د شپې **مجلسونه** ويني.

(كتابُ المَنامات مع موسوعة الامام ابن ابي الدنيا ج3 ص 153 رقم 321)

## د زر رکعاته لـمانځه نه غوره

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د دې حكايت نه معلومه شوه چې حضرت سَيِّدُنا **ابو جعفر قاري** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته د وَفات نه پس د "**ابوحازِم**" د صُحبتونو معلومات هم وو او په ظاهره داسې معلوميږي چې كيدے شي "**ابوحازِم**" به د شپې په **بدو صحبتونو** كښې كښيناستو ځكه ئې د سلام او پيغام په ذريعه په بدو **مجلسونو** كښې د ناستې نه خبردار كړو او د "نيكۍ دعوت" ئې ورته وړاندې كړو. د بد صحبت نه مونږ ټولو ته ډېر كول پكار دي ځكه چې د دې په وجه ښه نيك انسان هم خراب شي. هميشه د نيكو بندګانو او د عاشقانِ رسول صحبت اختياروِل پكار دي. **حُجَّةُ الاسلام** حضرت سَيِّدُنا امام ابو حامِد مُحمّد بن مُحمّد بن مُحمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په **كيميائے**

**سعادت** کښې فرمائي: داسې انسان دې اولټوي چې د هغه په صُحبت او خبرو د دُنيا طرف ته رَغبت کميږي او د آخِرت طرف ته ئې طبيعت ګرځي، د کوم کس په خبرو کښې چې داسې اثر نه وي نو د هغه صُحبت به "**علمي مجلس**" نه ګڼل شي: منقول دي چې: په علمي **مجلِسونو** کښې حاضريدل د زرو رکعاتو نفلو اداکولو نه زيات غوره دي. (کيميائے سعادت ص 161)

حضرت مَولانا رُوم رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په مَثنَوِی شريف کښې فرمائي:

یک زمانہ صحبت با اولیاء　　　بہتر از صَد سالہ طاعت بے ریا

(لږ ساعت د اولياؤ په صُحبَت کښې ناسته د سلو کالو بے رِيا يعني د خالص عِبادت نه غوره ده)

## د مَرِېږ [منږک] او چيندخې دوستي

**عارِف بِاللّٰه** حضرت مَولانا رُوم رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د بد صُحبَت د نقصان په باره کښې فرمائي: اِتّفاقاً د يو لښتي په غاړه د يوې **مَرِېږ** [منږک] د **چيندخې** سره مُلاقات اوشو او د دواړو دوستانه جوړه شوه، مَرِېږ ورته اُووئيل چې کله مې ستا سره زړه ملاقات کول اُوغواړي نو ته خو په اوبو کښې دننه ئې او هلته آواز هم نه در رسي نو تا ته به زه څنګه خبر درکووم؟ آخِر په دواړو کښې په دې خبره اتفاق اوشو چې د تار يو سر د مرِېږ په ښپه کښې او بل سر د چيندخې په ښپه کښې اوتړلے شي نو د ضرورت په وَخت کښې به يو بل ته د خبر ورکولو ترکيب کيدے شي، او هم دغسې ئې اوکړل. يوه ورځ قارغه په مَرِږه راغوټه شو او په خُله کښې ئې واغسته چې پورته والوتو نو د تار سره **چيندخه** هم په هوا شوه، **چيندخې** اُووئيل چې دا د مرِېږ په شان نالائقه څيز سره د دوستئ سزا ده، معلومه شوه چې د نالائقو او بدو خلقو د صُحبتونو په وجه ډير آفتونه پيښيږي.

اے فُغاں از یارِ ناجِنس اے فُغاں
ہمنشینِ نیک جُویَد اے مہماں

(فرياد دے! د نالائقه دوست نه فرياد دے. اے دوستانو! نيك ملګرے اُوګورئ)

(مثنوي، دفتر ششم 266، 267، 285 بتَغَيُّر)

د عاشقانِ رسول په صحبتونو کښې کښينئ ځکه چې د هغوئي د مَحَبَّت او صُحبَت په وجه خوفِ خُدا عَزَّوَجَلَّ او عِشقِ مُصطفٰی صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حاصليږي. حديثِ قُدسي دے:

وَجَبَتْ مَحَبَّتِیْ لِلْمُتَحَابِّیْنَ فِیَّ وَالْمُتَجَالِسِیْنَ فِیَّ وَالْمُتَزَاوِرِیْنَ فِیَّ وَالْمُتَبَاذِلِیْنَ فِیَّ

[يعني] **الله** تعالٰی ارشاد فرمائي: کوم خلق چې زما په وجه په خپل مينځ کښې مَحَبَّت کوي او زما په وجه د يو بل سره کښيني او په خپلو کښې ملاقات کوي او مال خرچ کوي د هغوئي سره زما مَحَبَّت واجِب شو. (مُوَطّا امام مالك ج2 ص439 حديث1828)

# د حديثِ پاك بيان کوونکي مُبَلِّغ حِکايت

**حضرت** سَيِّدُنا عبدان بن محمد مَروَزِي رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: ما حافِظ يعقوب بن سُفيان رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه په خوب کښې اوليدو نو تپوس مې ترينه اوکړو: مَا فَعَلَ اللهُ بِكَ؟ يعني **الله** تعالٰی ستا سره څه مُعامَله اُوفرمائيله؟ جواب ئې راکړو: **الله** تعالٰی زما بخښنه اوکړه او اوئې فرمائيل: تا به چې څنګه په دُنيا کښې حديث بيانولو، [هغسې ئې] په آسمان کښې هم بيان کړه. نو فرښتے زما خوا ته راجمع شوې او حضرتِ جِبرئيل عَلَيۡهِ السَّلَام ما ته د حديث پاك اِملا کولو حکم اوکړو، بيا فرښتو هغه (حديث شريف) د سرو زرو په **قلمونو** اوليکو. (شَرۡحُ الصُّدُوۡر ص293)

## والدِ مرحوم شين لِباس اغوستے وو او په مُسكا وو

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده! د عُلمائے دين او د حديثونو د **مُبَلِّغينو** خومره اوچته درجه ده! د وَفات نه پس د بخښنې زيرے هم ورکړے شو او په څلورم آسمان كښې ورته د فرښتو په مينځ كښې د حديثِ پاك بيانولو سعادت هم نصيب شو، او فرښتو هغه حديثِ پاك د سرو زرو په قلمونو اوليكو. په آخِرت كښې د جَنَّت طلبګارو! تاسو هم د **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو ډكو اجتماعاتو او د سُنَّتو د تربيت په **مَدَني قافِلو** كښې عاشقانِ رَسول سره د سُنَّتو ډك سفر په ذريعه د **عِلمِ دين** خزانه جمع كړئ او په مَدَني انعاماتو د عمل، د سُنَّتو ډكو بيانونو كولو او هره ورځ د **فيضانِ سُنَّت** كم نه كم دوه درسونو وركولو په ذريعه د جَنَّتُ الفِردَوس حاصلولو مُسلسل كوشش جاري ساتئ. ستاسو د ترغيب او تحريص د پاره تاسو ته يو **مدني سپرلے** اوروم: چنانچه د نِشتر بَستي (كراچئ) د يو اسلامي ورور بيان په **تَصَرُّف** سره عرض كووم: [وائي چې] ما خپل والِدِ مرحوم په خوب كښې ډير كمزورے او بربنډ د بل چا په په مدد روان اوليدو. زه ډير خفه شوم او ما د **اِيصالِ ثواب** په نِيَّت هره مياشت د درې ورځو **مدني قافله** كښې د سفر كولو نِيَّت اوكړو او سفر مې شروع هم كړو. په دريمه مياشت چې د مَدَني قافلے نه بيرته راغلم او اُوده شوم نو ما په خوب كښې دا ښكلې نظاره اوليده چې زما والِدِ مرحوم شين شين لباس اغوستے ناست دے او په مُسكا دے او د باران نرے نرے پشم پرې راوريږي. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په **مدني قافِله** كښې د سفر كولو اَهَمِّيَّت ما ته ډير ښه رامعلوم شو او اوس مې پوخ نِيَّت دے چې **هَره مِياشت به د درې ورځو د پاره عاشِقانِ رسول** سره سفر جاري ساتم.

مانگو آکر دُعا، قافلے میں چلو | پاؤ گے مُدَّعا، قافلے میں چلو
خوب ہو گا ثواب اور ٹلے گا عذاب | ہو گا فضلِ خدا، قافلے میں چلو
فوتگی ہو گئی، گُم گیا ہے کوئی | مانگنے کو دُعا، قافلے میں چلو

راشئ اُوغواړئ دُعا، قافِلو کښې لاړ شئ
شي پوره به مو دُعا، قافِلو کښې لاړ شئ
ډير به اوګټئ ثواب، شي به لرې تول عذاب
وبه شي فضلِ خُدا، قافِلو کښې لاړ شئ
که موخوك وفات شوے يا مو خوك وي ورك شوے
راشئ اُوغواړئ دُعا، قافِلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## آيا د خوب په ذريعه يقيني علم حاصليږي؟

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! ښه خوبونه بيشکه ښه وي. ياد ساتئ! د نبي خوب په وحي مُشتمِل وي او د غيرِ نبي خوب دا حيثيّت نه لري او د هغه خوب حُجَّت يعني دليل هم نه وي. مثلاً که چرې تاسو په خوب کښې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا زيرے اوريدلے وي چې "تاسو جَنَّتي ئې." نو د دې نه قطعي جنّتي کيدل مراد نه وي ځکه چې مُعامله د خوب ده. بيشکه چا چې د الله تعالیٰ خوږ حَبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې اوليدو هغه حق اوليدو ځکه چې شيطان د هغوئ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مبارَك شکل کښې نه شي راتلے. او کومه خبره ئې چې اُوفرمائيله هغه هم حق حق او حق ده. خو بيا هم ولې چې په خوب کښې حواس [يعني سوچ، فکر] کمزوري وي، ځکه خوب ليدونکے په پوخ يقين سره دا نه شي وئيلے چې څه ئې فرمائيلي وو هغه [خوب ليدونکي] ټکي په ټکي صحيح اوريدلي وو، په اوريدو او پوهيدو کښې د غَلَطئ هر قِسم اِمکان شته دے، لِهٰذا په خوب کښې ورکړے شوي حکم باندې د عمل کولو نه مخکښې به د شريعت حُکم ته کتلے شي.که د خوب خبره د شريعت خلاف نه وي نو بيشکه په هغې عمل کيدے شي خو بيا هم په خوب کښې ورکړې شوي حکم باندې عمل کول شرعاً واجب نه دي او که چرې هغه خبره د شريعت

خِلاف وي نو په هغې به عمل نه کيږي. په دې خبره د دې مثال نه ځان پوهه کړئ چې په هغې کښې،

## په خوب کښې ئې د شراب څښلو حکم اوکړو که منع ئې اوکړه؟

اعلٰی حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت، وَلِیِّ نِعمَت، عظِیمُ البَرَکت، عظِیمُ المَرْتَبَت، پتنګ د شمعِ رِسالت، مُجَدِّدِ دِین و مِلَّت، حامِیِٔ سُنَّت، ماحِیِٔ بِدعـت، عالِمِ شریعت، پیرِ طرِیقت، باعِثِ خیر و بَرَکت، حضرتِ عَلّامه مَولانا الحاج الحافِظ، القاری اَلشَّاه اِمام اَحمَد رَضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: یو کس خوب اولیدلو چې جنابِ رسالتِ مآب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (مَعَاذَ الله عَزَّوَجَلَّ) هغه ته د شراب څښلو حکـم ورکوي. د سَیِّدُنا اِمام جَعفر صادِق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خِدمَت کښې مُعامَله پیش کړے شوه. هغوئې رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ارشاد اُوفرمائیلو: ''رَسُولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د شراب څښلو نه منع کړے ئې. تا سم نه دي اوریدلي.'' او دا هم یاد ساتئ چې په دې [یعني د خوب په] مُعامَله کښې فاسِق او پرهیزګاره برابر دے. لِهٰذا په خوب کښې نه د پرهیزګار حکـم اوریدل د هغه حکـم د صحیح کیدلو دلیل وي او نه د فاسِق بیان یقیني طور دروغ وي.

(ماخوذ از فتاوٰی رضویه ج 5 ص 100)

مرے تم خواب میں آؤ مرے گھر روشنی ہو گی
مری قسمت جگا جاؤ عنایت یہ بڑی ہو گی (وسائلِ بخشش ص ۲۷8)

زما په خوب کښې تشریف راوړئ، شي به کور زما روښانه
قِسمَت زما بیدار کړئ، اوکړئ دا عنایت اے آقا مهربانه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# چې کله ئې يو ځلمے په غلط اودس کولو اوليدو

**يو بُزُرګ** د بَغداد شريف په يوه علاقه تيريدو، هغوئې يو ځلمے اوليدو چې **اودس** ئې په صحيح طريقه نه کولو نو ډير د مِينې ډك انداز کښې ئې هغه ته اُوفرمائيل: ”اے ځلميه! صحيح اودس اوکړه، **اللّٰه** تعالیٰ دې په دُنيا او آخِرت کښې په تا احسان اُوفرمائي.“ دا ئې اُوفرمائيل او تشريف ئې يوړو. هغه ځلمے د هغه بُزُرګ د **نيکئ د دعوت** ورکولو د خوږ خوږ انداز نه ډير مُتَاَثِّره شو او د اودس کولو نه پس د هغه بُزُرګ په خدمت کښې حاضر شو او د نصيحت طالِب شو، هغوئې (د نيکئ دعوت ورکولو) کښې درې مدني ګلونه ارشاد کړل: (1) پوهه شه! چا چې د **رَبِّ کائِنات** جَلَّ جَلالُهٗ **مَعرِفت** اُوموندو (يعني **اللّٰه** تعالیٰ ئې اُوپيژندلو) هغه خلاصے اُوموندو. (2) چا چې د خپل دين په مُعامَله کښې **خوف** اوکړو (يعني د **اللّٰه** تعالیٰ نه اُويَريدو) هغه د بربادئ نه بچ شو. (3) چا چې په دُنيا کښې زُهد اختيار کړو (يعني د دنيا نه ئې ډډه اوکړه) هغه چې کله په ورځ د مَحشَر د **اللّٰه** تعالیٰ له طرفه ورکړے شوے ثواب اُووِيني نو د هغه سترګې به يخې شي. (بيا ئې اُوفرمائيل) آيا نور څه درته اُو نه ښايم؟ عرض ئې اوکړو: ضرور اُوفرمائي. هغوئې اُوفرمائيل: په چا کښې چې درې صِفتونه جمع شو د هغه **ايمان** مُکَمَّل شو: (1) څوك چې د **نيکئ حکم** ورکوي او پخپله هم په هغې عمل کوي. (2) څوك چې د **بدئ نه منع کوي** او پخپله هم د هغې نه ځان ساتي او (3) څوك چې د **حُدودِ اِلٰهي** جَلَّ جَلالُهٗ [يعني د اللّٰه تعالیٰ د حدونو] حفاظت کوي (يعني په شرعي احکاماتو عمل کوي او د شرعي ممنوعاتو نه ځان ساتي) **بيا** ئې اُوفرمائيل: آيا نور هم درته څه اوښايم؟ عرض ئې اوکړو ولې نه، ضرور ارشاد اُوفرمائې، اوئې فرمائيل: د دُنيا نه بے رغبته شه او د آخِرت شوق لرونکے جوړ شه او په خپل هر کار کښې د **رَبُّ الاَنام** عَزَّوَجَلَّ سره د ښتياؤ مُعامَله کوه خلاصے موندونکو سره به **خلاصے** اُوومومې. دا ئې اُوفرمائيل او تشريف ئې يوړو. هغه ځلمي د هغه بُزرګ په باره کښې تپوس اوکړو نو هغه ته اُووئيل شو چې دا حضرت سَيِّدُنا **امام شافعي** رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه وو.

(احياء العلوم ج 1 ص45 بِتَغَيُّر)

د الله تعالیٰ دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دې زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي.

**اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

# د بے ځايه اعتراض کولو په ځائے اصلاح کوونکي جوړ شئ

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! تاسو اوليدل! د کروړاؤ شافِعيانو پيشوا حضرت سَيِّدُنا مُحَمَّد بِن اِدريس، المَعرُوف "**امام شافِعي**" رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خومره مَحَبَّت او نرمئ انفرادي کوشش اُوفرمائيلو او هغه ځلمي چې په ښه طريقه اودس نه کولو، د هغه اودس ئې هم صحيح کړو او هغه ته ئې د **نيکئ دعوت** هم ورکړو.کاش! چې مونږه هم په داسې انداز اختيارَوَلو کښې کامياب شو، کاش! چې مونږ ته هم دا توفيق رانصيب شي چې کله د چا په **اودس** کښې غلطي اُووينو يا د چا په لـمانځه کښې سستي او کمے اُووينو يا څوك د دروغو، غِيبَت او **چُغلئ** په ګناهونو کښې اَخته اُووينو نو بيا وروستو د هغه په غير موجودګئ کښې په هغه باندې د بے ځايه اعتراض کولو په ځائے او په هغه پسې د بدو وئيلو په ذريعه خپل ځان د غيبت جوړې کندې ته د غورزَوَلو په ځائے هغه د ګناهونو د دلدل نه د راويستلو کوشش اوکړو او په ډيره مينه او مَحَبَّت د هغه د پوهه کولو کوشش اوکړو او د آخِرت د ثواب خزانے جمع کوونکي جوړ شو. که مونږه د اِخلاص په نيت څوك پوهه کوو نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ ضرور به فائده کيږي او فائده به ولې نه کيږي ځکه چې په پوهه کولو باندې د فائدے رسيدو پخپله رَبُّ الانام جَلَّ جَلَالُهٗ په خپل ربنتيني کلام کښې خبر فرمائيلے دے چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي ترجَمے والا پاکِيزه قُرآن "كَنْزُالْاِيمَان مَعَ خَزَائِنُ الْعِرفَان" صفحه 964 سيپاره 27 سُوْرَةُ الذّٰرِيٰت آيت **55** کښې دي:

وَ ذَكِّرْ فَاِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۵۵﴾

مفهوم ترجمهٔ کنزُ الایمان: او پوهه کوئ ځکه چې پوهه کول مسلمانانو ته فائده ورکوي.

جسے نیکی کی دعوت دوں، سنے دل سے کرم یارب!
زَباں میں دے اثر کر دے، عطا زورِ قَلَم یاربّ

چا ته چې ورکووم د نیکۍ دعوت، چې اوري ئې په غور، اوکړه کرم یاربّ
اثر پیدا کړې زما په خُله کښې، را عطا کړې زور د قلم یا ربّ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

# د اَودَس طریقه (حَنَفِي)

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! په ذِکر کړے شوي حِکایت کښې د حضرت سیِّدُنا اِمام شافِعِي د یو ځلمي د اودس د اصلاح کولو ذِکر دے، چې هغه وخت هم خلقو په اودس کولو کښې غَلَطۍ کولې نو دا اوسنے دور خو د هغې نه ډیر زیات نازك دے بلکه ښکاره خبره ده چې د مسلمانانو اکثریت ته د اودس کولو صحیح طریقه نه ورځي لِهٰذا راځئ چې مونږه هم **د اودس طریقه** زده کړو. د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِینه کتاب ”د لمانځه احکام“ [د رسالے ”**د اودس طریقه**“ د] صفحه 8 نه 14 پورې دي: کعبةُ الله شریف طرف ته مخ کول او په اوچت ځائے کښیناستل مُستَحَب دي. د اَودَس د پاره **نِیَّت** کول سنّت دي، نِیَّت د زړه اِرادے ته وائي، په زړه کښې چې نِیَّت وي نو په ژبه وئیل هم افضل دي، لهٰذا په ژبه داسې نِیَّت اولولئ چې زه **د حُكمِ اِلٰهی** عَزَّوَجَلَّ د **پوره کولو او د پاکۍ حاصلولو د پاره اَودَس کووم**.

بِسۡمِ الله اولولئ، دا هم سنّت دي بلکه بِسۡمِ اللهِ وَالۡحَمۡدُ لِلّٰهِ اولولئ چې د کله پورې مو اَودَس وي فرښتے به درله مسلسل نیکئ لیکي (مَجۡمَعُ الزَّوائِد ج1 ص513 حديث1112) بیا **دواړه لاسونه** درې درې ځله د ګِیټو [یعني د مروندونو د جوړونو] پورې اُووِینځئ، (نل بند کړئ او) د دواړو لاسونو د ګوتو خِلال هم اوکړئ، کم نه کم درې درې ځله د غاښونو په ښي طرف، ګڅ طرف کښې او لاندې باندې **مِسواک** اوکړئ او هره پیره مِسواک وِینځئ. حُجّةُ الاسلام اِمام محمّد غزالی رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: "د مِسواك کولو په وخت کښې په لـمانځه کښې د قرآنِ مجید د قِراءت [یعني لوستلو] او د **ذِكۡرُ الله** عَزَّوَجَلَّ د پاره د خُلې پاك کولو نِیَّت کول پکار دے" (احیاءُ العُلوم ج1 ص182) بیا د ښي لاس په درې چونګه اوبو (هره پیره نل بندوئ) په داسې شان **درې ځله خُله اُووِینځئ** چې هره پیره د خُلې په هره پرزه باندې اوبه اُوبهیږي که روژه مو نه وي نو غرغره هم اُوکړئ. بیا په ښي لاس په درې چونګه (اوس هره پیره نیم چونګ هم کافي دے) (او هره پیره نل بندوئ) **درې ځله د پوزې** د نرمې غوښې پورې اوبه اوخیژوئ او که روژه مو نه وي نو د پوزې جرړې ته اوبه اوخیژوئ، بیا (نل بندکړئ او) په چپ لاس پوزه پاکه کړئ او کچه ګوته د پوزې په سُورو کښې اُووهئ. **درې ځله ټول مخ** داسې اُووِینځئ چې د کوم ځائے نه عادتاً د وِیښتو ستې [جرړې] شروع کیږي د هغه ځائے نه واخله د زني د لاندې پورې او د یو غوږ د لَو [یعني د نرمې حصّې] نه د بل غوږ د لَو [یعني نرمې حصّې] پورې هر ځائے باندې اُوبه اُوبهیږي. که **ګِیره** مو وي او اِحرام مو نه وي ترلے نو(اول نل بند کړئ بیا) په داسې شان **خِلال** اوکړئ چې ګوتې د مرئ له طرفه [په ګِیره کښې] داخِلې کړئ او مخې طرف ته ئې اُوباسئ. بیا اول **ښے لاس** د ګوتو د سرونو نه وینځل شروع کړئ او د څنګلې سره ئې اُووِینځئ. هم دغسې بیا **چپ لاس** اُووِینځئ. دواړه لاسونه د مټ د نِیمې [یعني د څنګل او د اُوګې د مینځه] پورې وینځل مُستحب دي. اکثر خلق په چونګ کښې اوبه واچوي او د لاس د بند نه ښکته څنګل طرف ته ئې پریږدي په دې طریقه اوبه د مټ او د څنګل ډډو ته د نه رسیدو اندیښنه ده. لِهٰذا په بیان کړې شوې طریقه باندې لاس

وِينځئ نو بيا په چونګ اوبه د ښنګل طرف ته د بهيولو ضرورت نشته بلکه (بغير د صحيح اِجازت نه داسې کول) **د اوبو اسراف دے.** بيا (نل بند کړئ) او **د سر مسح** په داسې طريقه اوکړئ چې د دواړو لاسونو غټې ګوتې او د شهادت ګوتې پريږدئ او باقي د دواړو لاسونو د درې درې ګوتو سرونه د يو بل سره اُولګوئ او د تندي په وِيښتو يا پوستکي [يعني څرمن] باندې ئې کيږدئ او د څټ پورې ئې داسې راښکاږئ چې ورغوي د سر نه جدا وي، بيا د څټ نه د تندي پورې ورغوي په راښکلو راولئ چې په دې دوران کښې د شهادت ګوتې او غټې ګوتې په سر بالکل اُونه لګي، بيا د شهادت په ګوتو د غوږونو د دننه غاړو او په غټو ګوتو د غوږونو د بَهر غاړو مسح اوکړئ او کچئ ګوتې د غوږونو په سُورو کښې داخِلې کړئ. او د ګوتو په شا د څټ مسح اوکړئ، بعضې خلق د مرئ او د وِينځلو شوو ښنګلو او مټو مسح کوي دا سُنَّت نه دي. (فتاوٰی رضویّہ مُخَرَّجہ ج 4 ص 621) کښې د سر د مسح کولو يوه طريقه دا هم ليکلې شوې ده په دې کښې خاص طور د اسلامي خويندو د پاره زياته اساني ده. چناچه ليکلې شوي دي چې: ”د سر په مسح کښې د سُنّت ادا کولو دپاره دا هم پوره دي چې ګوتې د سر په مخکښئ حصه باندې کيږدئ او ورغوي د سر په ډډو باندې کيږدئ او لاسونه جوخت د څټ طرف ته راښکاږئ.“) د سر د مسح کولو نه مخکښې د نل په ښه طريقه د بندولو عادت جوړ کړئ. د ضرورت نه بغير نل چالو پريښودل يا نيم بندول چې اوبه ترينه څڅيږي دا ګناه ده. بيا مخکښې **ښئ ښپه بيا چپه ښپه**، هره پيره د ګوتو نه وِينځل شروع کوئ او د ګيټو [پړکو] نه بره څائے پورې بلکه مُستَحَب دي چې د نيمې پنډئ پورې ئې درې درې ځله وينځئ. د دواړو ښپو د ګوتو خِلال کول سُنَّت دي (د خِلال په وخت کښې نل بند ساتئ) د دې مُستَحَب طريقه دا ده چې د چپ لاس په کچئ ګوته د ښئ ښپې د کچئ ګوتې نه خِلال شروع کړئ او په غټه ګوته ئې ختم کړئ او هم دغه د چپ لاس په کچئ ګوته ئې د چپې ښپې د غټې ګوتې نه شروع کړئ او په کچئ ګوته ئې ختم کړئ. (عامه کُتُب)

**حُجَّةُ الاسلام اِمام مُحَمَّد غزالی** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ”د هر اندام وينځلو په وخت کښې دِي دا اُمِّيد لري چې زما د دې اندام گناهونه لرې کيږي.“ (اِحیاءُ العُلوم ج 1 ص 183 مُلَخّصاً)

## د اَودَس په پاتې شوو اوبو کښې د اوياؤ بيمارو نه شفا ده

په لوټه [يا کوزه] وغيره بانډې د اَودَس کولو نه پس پاتې شوې اوبه په ولاړه څښل سُنّت هم دي او شِفا هم ده. چنانچه **اعلٰحضرت**، اِمامِ اهلِ سُنَّت، مولانا شاه اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په ”فَتاوٰی رَضَوِیّه مُخَرَّجَه جلد 4 صفحه 575 نه 576 کښې فرمائي: د اَودَس نه د پاتې شوو اوبو د پاره شرعاً عَظَمت او احترام دے او د نَبِيّ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه ثابت دي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اَودَس اُوفرمائيلو او بقِيّه آب (يعني پاتې شوې اوبه) ئې په ولاړه اوڅښلې او په يو حديث کښې رِوايت شوي دي چې **د دې څښل د اوياؤ مرضونو نه شِفا ده.** (اَلفِردوس ج 2 ص 362 حديث 3617) نو هغه په دې اُمورو کښې د آبِ زم زم سره مُشابَهَت [يعني يو شان والے] لري، په داسې [يعني د اودس نه پاتې شوو] اوبو بانډې استِنجا کول مناسب نه دي. د ”**تنوير**“ په ”**آدابِ وُضُو**“ کښې دي: ”د اَودَس نه پس دې د اَودَس نه پاتې (اوبه) مخ په قبله په ولاړه اوڅښې.“ (تنوِيرُالاَبصار ج 1 ص 275) علّامه عَبدُالغَني نابُلُسي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما تجربه کړې ده چې زه کله بيمار شم نو د اَودَس نه پاتې شوو اوبو [په ولاړه څښلو] بانډې راته شِفا حاصله شي. [دوئي فرمائي چې] د نَبِيّ صادِق صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې صحيح طِبِّ نَبَوِي کښې موجود ارشادِ گِرامي بانډې د اعتِماد [يعني د يقين کولو] په وجه ما دا طريقه اختيار کړې ده.

وَاللهُ سُبْحٰنَهٗ وَ تَعَالٰی اَعْلَمُ بِالصَّوَاب (رَدُّالمُحتار ج 1 ص 277)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د جَنَّت اته واړه دروازے بيرته کيږي

په **حديثِ** پاك کښې دي: چا چې په ښه طريقه اَودَس اوکړو او بيا ئې آسمان طرف ته نظر پورته کړو او کلِمهٔ شهادت ئې اولوستله د هغه د پاره **د جَنَّت آته واړه دروازے برسيره کړے شي** په کومه چې غواړي داخِل دې شي. (سُنَنِ دارمی ج 1 ص 196 حديث 716)

# نظر به کله هم نه کمزورے کيږي

ځوك چې د اَودَس نه پس آسمان طرف ته ګوري او سورۀ اِنَّاۤ اَنْزَلْنٰهُ لولي اِنْ شَآءَ الله تعالٰی د هغه نظر به کله هُم نه کمزورے کيږی. (مَسائلُ القرآن ص291)

# د اَودَس نه پس د سُورۀ قَدر درې ځله لوستلو فضائِل

په حديثِ مُبارَکه کښې دی: ځوك چې د اَودَس نه پس يو ځل سُورۀ قَدر اولولي نو هغه په صِدِّيقينو کښې دے او ځوك چې ئې دوه ځله اولولي نو په شُهَداء کښې به شمار کړے شي او ځوك چې ئې درې ځله اولولي نو الله تعالٰی به د مَحشر په ميدان کښې هغه د خپلو انبياؤ عَلَيْهِمُ الصَّلوٰةُ السَّلَام سره ساتي. (جَمعُ الجَوامِع لِلسّيوطی ج7 ص251 حديث 22817)

# د اَودَس نه پس لوستلو والا دُعا (اول و آخِر دُرودشريف)

ځوك چې د اَودَس کولو نه پس دا کلِمات اولولي:

سُبۡحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمۡدِكَ اَشۡهَدُ اَنۡ لَّاۤ اِلٰهَ اِلَّاۤ اَنۡتَ اَسۡتَغۡفِرُكَ وَاَتُوۡبُ اِلَيۡكَ

تَرجَمَه: اے الله! ته پاك ئې او هم ستا لپاره ټول صفتونه دي، زه ګواهي ورکووم چې ستا نه سِوا ځوك د عبادت لائق نشته، زه ستا نه بخښنه غواړم او ستا په بارګاه کښې توبه کووم.

نو په هغې به مُهر اولګولے شي او د عرش نه لاندې به کيښودے شي او د قيامت په ورځ به هغه لوستونکي ته ورکړے شي. (شُعَبُ الايمان ج3 ص21 رقم 2754)

# د اَودَس نه پس دا دُعا هم اولولئ

## (مخکښې وروستو درود شريف)

اَللّٰهُمَّ اجۡعَلۡنِيۡ مِنَ التَّوَّابِيۡنَ وَاجۡعَلۡنِيۡ مِنَ الۡمُتَطَهِّرِيۡنَ اے الله عَزَّوَجَلَّ! ما په ډير زيات توبه کوونکو کښې شامِل کړې او ما په پاکيزه اوسيدونکو کښې شامِل کړې.

(سُنَن تِرمِذی ج1 ص121 حديث 55)

# د 40 مَدَني ګلونو رَضوي ګلدسته

**اعلٰی حضرت**، امامِ اَهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دِين و مِلَّت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان رحمۃ اللہ علیہ د اوداسه وغيره په باره كښې وركړے شوې د جُدا جُدا رنګا رنګ ښكلو څلويښتو مَدَنـي ګلونو رَضَوي ګلدسته قبوله كړئ. اِنْ شَآءَاللّٰهُ الكريم تاسو ته به د معلوماتو خزانه په لاس در شي. دا ټول مدني ګلونه د فتاوٰى رَضَوِيّه مُخَرَّجه (جلد4) په آخره كښې وركړے شوې د "فوائد جليله" د صفحه 613 تا 746 نه اخستے شوي دي.

(1) په اوداسه كښې دې سترګې كلكې نه بندوي خو [كه بندې ئې كړې نو] اَودَس به اوشي (ايضاًص613) (2) كه شونډې ئې ښې كلكې بندې كړې او اَودَس ئې اوكړو او خُله ئې اُو نه وِينځله نو اَودَس به نه كيږي. (ايضاًص614) (3) د اوداسه اوبه به د قيامت په ورځ د نيكو په تَلَه كښې اِيښودې شي. (ايضاً) (خو ياد ساتئ د ضرورت نه زياتې اوبه توئ كول اِسراف دے) (4) كه مِسواك موجود وي نو په ګوته غاښونه مرږل د سُنّت ادا كولو او د ثواب ګټلو د پاره كافي نه دي، خو كه مسواك نه وي نو ګوته يا زګه ټوټه [كپړه] باندې به سُنّت ادا شي او د زنانه د پاره كه مسواك موجود وي نو بيا هم [په ګوته يا] دنداسه مرږل كافي دي. (ايضاًص615) (5) كه ګوتمه سَسته وي نو په اوداسه كښې د هغې په تاوهلو تاوهلو اوبه بهيول سُنّت دي او كه تنګه وي چې د خوزولو نه بغير به اوبه نه رسي نو [خوزول او په هغه ځائے اوبه بهيول] فرض دي، هم دا حكم د والَۍ (د غوږ د كالي) وغيره دے (ايضاًص616) (6) اندامونه په مرږلو مرږلو وِينځل په اَودَس او غسل دواړو كښې سُنَّت دي (7) د اَودَس د اندامونو په وِينځلو كښې د شرعي حد نه دومره معمولي شان لِيكه (يعني د هر طرف نه معمولي شان) زياتول چې په هغې د شرعي حد پوره كيدو كښې شك پاتې نه شي واجب دي. (ايضاً)(8) په اَودَس كښې په خُله يا پوزه كښې اوبه نه اچول مكروه دي او كه دا عادت جوړ كړې نو ګنهګار به وي. دا مسئَله دې ھُغه خلق ښه ياده لري څوك چې خُله داسې نه وينځي چې د حلقه پورې هر ځائے اُووِينځلے شي او ھُغه خلق چې اوبه صرف پوزې ته اُولګوي خو په بره

راښکلو ئې پوزه کښې نه خيژوي دا خلق تول ګنهګار دے، او که په غُسل کښې داسې اُونکړي نو د سَرَه به نه غُسَل کيږي او نه لمُونځ. (اَيضاً) (9) په اَودَس کښې د هر يو اندام پوره درې ځله وينځل سُنّتِ مُؤَكَّده دي، د پريښودلو په عادت به ګنهګار وي (ماخوذاز ايضاً) (10) په اودس کښې تادي نه ده پکار بلکه په اِطمِينان او احتياط سره دې ئې کوي. په عوامو کښې چې دا مشهوره ده چې "اَودَس د ځوانانو په شان، او لمُونځ د بوډاګانو په شان" دا دَ اَوداسه په باره کښې غلطه خبره ده. (ايضاًص617) (11) په مخ وينځلو کښې دې د اوبو لَپه نه په اننګو اچوي، نه په پوزه او نه دې ئې په زوره په تندي اچوي، دا تول کارونه د جاهِلانو دي بلکه په قلاره دې ئې د تندي د بره نه اچوي چې د زني پورې ښکته رابهيږي (ايضاًص618) (12) که چا په اَودَس کښې د مخ نه راتوئيدو والا اوبه [په بل اندام] مثلاً په مړوند اوبهيولې په دې اَودَس نه کيږي (يعني په مخ وينځلو کښې د مخ نه رابهيدو والا اوبو باندې د لاس مړوند وغيره نه شي وينځلے) او په غسل کښې (معامله جُدا ده) مثلاً د سر اوبه چې د ښپو پورې د کوم کوم ځائے پورې بهيږي هغه ځائے پاکوي هلته د نوو اوبو حاجت نشته (ايضاًص618) (13) که څوك اَوداسه ته کښيناستو او بيا ئې د څه مجبورئ په وجه مکمل نه کړے شو نو چې څومره افعال ئې کړي وو [يعني څومره اَودَس ئې چې کړے وو] د هغې به ثواب مومي اګر چې اَودَس ئې اونشو (ايضاً) (14) چا چې پخپله اِراده اوکړه چې نيم اَودَس به کووم نو هغه به په دې افعالو ثواب نه مومي، هم دغسې چې څوك اَودَس ته کښيناستو او بے عُذره ئې نيمګړے پريښودو نو هغه هم چې څومره افعال [يعني د کوم حده پورې اَودَس] کړے وو په هغې باندې د ثواب حقدار نه شي جوړيدے. (ايضاًص619) (15) که په سر باندې د باران څاڅکي دومره اوشو چې څلورمه حصّه سر لوند شو نو مسح اوشوه، اګر چې هغه کس ورته نه لاس لګولے دے او نه ئې قصد (يعني نِيَّت او اراده) کړې وه. (ايضاً) (16) په پرخه [چنئ] کښې سرتور سر کښيناستو او په هغې ئې څلورمه حصّه سر لوند شو، مسح وشوه. (ايضاً) (17) په دومره تودو يا دومره

يخو اوبو اَودَس کول مکروه دي چې په بدن باندې په صحيح طريقه نه شي اچولے کيدے او سُنَّت پرې نه شي پوره کيدے، او که [داسې اوبه] په يو فرض پوره کولو کښې مانِع [يعني رُکاوټ] جوړې شي نو د سَره به اَودَس نه کيږي. (ايضاًص620) (18) اوبه بيکاره خرچ کول يا توئ کول حرام دي. (ايضاًص621) (پخپله يا د بل د ځښلو نه پس د ګلاس يا د جګ اوبه هسې توئ کوونکي دې توبه اوکړي او د بيا د پاره دې د دې نه ځان ساتي) (19) که د نوم نه زيرې اوبه اُوځي او اُوبهيږي نو اَودَس پرې ماتيږي. (اَيضاًص622) (20) که وِينه يا نَو په سترګه کښې دننه اُوبهيدو خو د سترګې نه بهر اُو نه وَتو نو اَودَس به نه ماتيږي، هغه که په رخت [يعني کپړه] باندې وچ کړے شي او[هغه کپړه] په اوبو کښې واچولے شي نو (اوبه) به نه ناپاکه کيږي. (اَيضاًص624) (21) په زخم پټئ ترلے شوې ده په هغې وِينه وغيره اُولګيده که دومره وه چې که مخه ورته بنده نه وے نو بهيدلې به وے نو اَودَس مات شو [او که د بهيدو قابله نه وه] نو مات نه شو، او پټئ هم ناپاکه نه شوه. (اَيضاً) (22) [د تشو بولو په ځائے کښې دننه، د مَني يا وَدِي] ځاځکې راروان شو يا وِينه وغيره په ذَکر [يعني د تشو بولو په ځائے] کښې دننه اوبهيدله چې تر څو پورې د هغې د سُورې نه بهر نه وي راوَتلې، اَودَس به نه ماتيږي. او واړه بول صرف د سُورې په خُله کښې ځليدل (د اَودَس ماتولو د پاره) کافي دي. (ايضاً) (23) د نابالغه اَودَس کله هم نه ماتيږي او نه پرې غسل اوريږي. دوئي (يعني نابالغو) ته د اَودَس او غُسل حکم د عادت جوړولو د پاره او د ادب زده کولو د پاره دے، ګني په هيڅ قِسم حَدَث [يعني اَودَس ماتوونکي کار] د دوئي اَودَس نه ماتيږي او نه د جِماع سره په دوئي غُسل فرض کيږي (ايضاًص633) (24) اَودَس لرونکي د مور او پلار کپړے [او وينځلې] يا ئې د هغوئي د خوړلو د پاره ميوه [او وينځله او] يا ئې د جُمات فرش د ثواب د پاره اُووينځو، اوبه به نه مُستَعمَله کيږي اګرچې دا کارونه د قُربَت (يعني د الله د رضا) دي. (ايضاًص636) (25) د نابالغه پاك لاس يا د بدن کومه يوه [پاکه] حصه اګرچې د هغه اَودَس نه وي په اوبو کښې دَ وَهلو سره به اوبه د اَودَس قابلې وي. (اَيضاًص637) (26) بدن پاك

ساتل، خيري لرې کول د شَرع تقاضه ده ځکه چې د اسلام بُنياد په پاکئ دے. په دې نِيَّت که اَودَس لرونکي [خپل] بدن اُووِينځلو نو بيشکه قُربَت (يعني د ثواب کار) دے خو اوبه مُستَعمَلې نه شوې. (ايضاًص636) (27) مُستَعمَلې اوبه پاکې دي په دې باندې کپړے وينځلے شئ خو په دې اَودَس نه شي کيدے او د دې څښل او په دې وره اَغَرَل مکروهِ (تنزيهي) دي. (ايضاًص637) (28) پرَدئ [يعني د بل چا] اوبه ئې بے اِجازته يوړلې اګرچې په زور يا په غَلا، په هغې به اَودَس اوشي خو [داسې کول] حرام دي، البته که د چا مملوك (يعني د هغه د ذاتي) کوهي نه بل چا د هغه د منع کولو باوجود هم اوبه واغستلې، د هغې استعمال جائِز دے (ايضاًص650) (29) کومو اوبو ته چې د مُستَعمَلو اوبو داره اورسيدله يا پکښې ښکاره ځاځکې اوشو په هغې باندې اَودَس نه کول غوره دي. (ايضاًص650) (30) په يخنئ کښې د اَودَس کولو په وجه که يخني ډيره کيږي، د هغې په وجه به [وقتي طور] تکليف هم کيږي خو که د څه مرض ويره نه وي نو د تَيَمُّم اِجازت نشته (اَيضاًص662) (31) که د شيطان د تُوکلو او پوکلو په وجه په لـمانځه کښې د ځاځکې راتلو يا د هوا خارج کيدو شك پيدا شي نو حکم دا دے چې تر څو داسې يقين پيدا نه شي چې په هغې قَسم کولے شي [چې زما اودس مات شو] نو د دې (وسوسے) دې پروا نه کوي، که شيطان ورته وائي چې ستا اَودَس خو مات شو نو دا دې ورته وائي چې خبيثه ته دروغژن ئې، او په خپل لـمانځه کښې دې مشغول اوسي. (اَيضاًص697) (32) جُمات هر د کَرکَژن څيز نه پاك ساتل واجِب دي اګر چې پاك وي، لکه لُعابِ دهن (يعني د خُلې لاړې، بَلغم)، د پوزې اوبه (يعني قنهې)، يا د نزلے اوبه، د اوداسه اوبه[وغيره]) (ايضاًص706) (33) خبردارے: بعضې خلق دَ اوداسه نه پس دَ خپل مخ او لاسونو نه اوبه لرې کړي او لاسونه په جُمات کښې اوڅنډي (دا) بالکل حرام او ناجائِز دي (اَيضاً) (34) په اوبو کښې بَول کول مطلقاً مکروه دي اګرچې په درياب کښې وي. (اَيضاًص 725) (35) کوم ځائے چې څه نجاست [يعني ګند] پروت وي [هلته] تلاوت کول مکروه دي (اَيضاًص727) (36) اوبه ضائع کول حرام دي(اَيضاًص728) (37)

مال ضائع کول حرام دي (اَیضاًص728) (38) په زم زم شريف غسل او اَودَس کول بے د کراهته جائِز دي (او د بَول وغيره کولو نه پس) په لُوټه (د وچولو) نه پس (په آبِ زم زم) اِستنجا کول مکروه او نجاست [يعني ګند] وِينځل (مثلاً د بَولو کولو نه پس په ټِيشو پيپر وغيره د وچولو نه بغير په آبِ زم زم استنجا کول) ګُناه ده. (اَیضاًص742) (39) (هغه) اِسراف (کوم) چې ناجائِز او ګناه دے (هغه) صِرف په دې دوو صورتونو کښې دے، يو دا چې په څه ګُناه کښې خرچ او استعمال کړے شي او بل هسې بيکاره خپل مال ضائع کول.(اَیضاًص 743) (40) چا ته د مړي د غسل ورکولو طريقه زده کولو د پاره ئې مړے اولـمبَوَلو او هغه ته ئې د غُسل ورکولو نِيَّت اونکړو نو هغه هم پاك شو او د ژوندو نه هم فرض لرې شو ځکه چې فِعل بِالقَصد کافي دے، خو د نيّت نه بغير به ثواب نه کيږي. (اَیضاًص 707)

دین کی باتیں رہوں سنتا سناتا یاخُدا
اور رہوں اِس پر عمل کرتا کراتا یاخُدا

چې هر وخت د دِين خبرې اورم او کووم يا خُدا
چې کووم عمل پخپله، هم ئې بل ته زده کووم يا خُدا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**د اودس د ضروري احکامو زده کولو د پاره "د لـمانځه احکام" کښې شامله رساله "د اودس طريقه (حَنَفی)" ضرور اولولئ.**

دراروانپ هفتے رساله




فيضانِ مدينه، محلّه سوداڪران، زره سبزي منڊهي ڪراچيءَ
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com